## مطبوعاتي اعلامیه

### فېسبوک، د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې پاڼه په غیر منصفانه توګه د درېیم ځل لپاره تړي، تر څو د هغو مسلمانو ښځو غږ سانسور کړي چې اسلامي نظام غواړي

د فېسبوک شبکې یو ځل بیا د ۲۰۲۰م د جون په ۵مه په غیر منصفانه توګه د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې انګلیسي فېسبوک پاڼه له کوم جواز پرته وتړله. دا درېیم ځل دی چې د فېسبوک اداره دا کار ترسره کوي. په داسې حال کې چې موږ له دوی څخه د مخکینیو پاڼو د تړلو دلیل هم پوښتلی، خو دوی موږ ته هېڅ دلیل نه دی وړاندې کړی. د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې فېسبوک پاڼه د نړۍ په کچه بې شمېره هغو بې عدالتیو او د بېلا بېلو ظلمونو بیانولو ته ځانګړې شوې ده، چې ښځې او ماشومان ورسره لاس او ګرېوان دي. زموږ پاڼې د دوی ایډیالوژیکي او سیستماټیکي ادعاوې، پانګوال او لیبرال ارزښتونه راسپړي، همدا راز د اسلام په چوکاټ کې له ښځو سره د ظلم په اړه له زړو دروغو څخه پرده پورته کوي او هغه حقایق بیانوي چې د نبوت پر منهج د خلافت نظام له عدالت سربېره سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې ستونزې چې اوسمهال دوی ورسره لاس او ګرېوان دي، څه ډول هواري کړي. زموږ پاڼې د ډاډ وړ دي، ځکه چې ټول پوسټونه یې د سمو او کره معلوماتو پر بنسټ ولاړ دي او هېڅ بې ځایه، غیر اخلاقي، تعصبي او زیان رسوونکې هڅه پکې نه ده شوې.

زموږ د پاڼو په وار وار تړل د لیبرالېزم پر وړاندې په ساده توګه قضیه پیاوړې کوي، چې د دوی له منافقت څخه ډک طبیعت او د اسلام پر وړاندې له خپلو باورونو څخه د دوی د ذهنیت او دلیل کمزورتیا بیانوي، چې د بحث له لارې نه شي کولای د اسلام پر وړاندې له خپلو باورونو څخه دفاع و کړي؛ نو پر ځای یې هڅه کوي چې د سانسور له لارې د حق غږ پر وړاندې خنډونه جوړ کړي. په داسې حال کې چې د ټرمپ او نورو پر پوسټونو د ډېری کسانو له لوري نیوکه شوې او ویلي یې دي چې پوسټونه یې باید لیرې شي، ځکه چې ناسم معلومات ورکوي او تاوتریخوالي ته لمن وهي. دوی هغه فېسبوک پاڼې په نښه کوي چې د توکم پالنې، جنسیت پالنې، تعصبي افکارو او د ښځو پر وړاندې له تاوتریخوالي سره مخالفت کوي. په نړۍ کې د استعماري اجنډا، دغه دریځ د مظلومانو پر ځای د ظالمانو ملاتړ کوي او داسې یو شرکت منعکسوي چې د غرب مستشرق او امپریالیزم میراث او جعلي راوایتونه او همدا راز د نورو هېوادونو د کلتور په اړه، په ځانګړې توګه د اسلام پر وړاندې ناسم معلومات ورکوي. دا په رښتیا هغه باور شاته غورځوي چې د فېسبوک د نظرونو د عادلانه او ازاد بحث لپاره یو هدف او بې طرفه چوکاټ دی.

په ښکاره توګه، زموږ د پاڼو د ترلو لپاره دوی پرته له دې حقیقت څخه چې د مسلمانو مېرمنو مفکوره، چې د غربي لیبرالیزم پر ځای اسلام ته دعوت کوي، تر څو د دوی له ظلم څخه وژغورلې شي بل هېڅ کوم دلیل نه لري. دا د دوی د اصول او قوانینو خلاف عمل دی! د همدې عمل له لارې فېسبوک د مستبدو رژیمونو او افراطي سیکولر حکومتونو کټګورۍ کې شامل دی. دغه شبکه د درواغجنو پالیسیو له لارې د ګوښه کولو هڅه کوي، د مسلمانو مېرمنو غږ چې سیکولر لیبرالېزم نه مني او اسلام ته یې د خپل هویت او اصلي بدلون لپاره غېږې پرانېستې او د دوی په سیمو کې د باوري قوانینو او نظامونو له لارې ازمویل شوی دی. په هر حال موږ چوپ نه پاتې کېږو!

موږ پر ټولو هغو کسانو غږ کوو چې په رښتیني توګه د نړۍ په کچه د میلیونونو ښځو پر وړاندې د ظلم د پای ته رسولو غوښتونکي دي او غواړي په خپله خاوره کې رښتینې هوساینه، امنیت او پرمختګ رامنځته کړي. زموږ له پاڼې ملاتړ وکړئ، هغه خوښه کړئ، شریکه یې کړئ او ویې څارئ!

https://www.facebook.com/WomenSharia/

**﴿يُرِيدُونَ أَن يُطْفِؤُواْ نُورَ اللّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللّهُ إِلاَّ أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ﴾ [توبه:۳۲]**

***ژباړه:*** *دا خلک غواړي د الله سبحانه و تعالی رڼا په خپلو پوکیو سره مړه کړي. خو الله سبحانه و تعالی د خپلې رڼا له بشپړولو پرته منونکی دی، که کافرانو ته دا هر څومره ناکاره وبرېښي هم.*

**ډاکټر نسرین نواز د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې مشره**

**۱۴۴۱هـ.ق د شوال ۲۲مه**

**۲۰۲۰م د جون ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۲۵**